AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de

افغان جرمن آنلاین

ولی محمد نورزی ۲۰۱۱/۰۲/۱۲

# د مصر غورنګ

## او د خلکو خپلواک زورد ټولو نړی خلکوته د عبرت او پند درس

اتلس ورځی کیږی چه د مصر د خلکو غریبه، روشنفکره،او ځوانه طبقه د بیکاری او وزګاری له کبله د خپلو پا کو غو ښتنو په هیله د مصر د ستر سپهسالار ا و ظالم دیکتاتور پر ضد د قاهری ، اسکندریه ، سویز کانال او نورو ښاروکی کلکی مظا هری پکار واچولی ، تر څود مصر د خلکو په اجتماعی، اقتصادی اوضروری ژوندون کی تغیر راشی. ولی د مصر حکومت او دهغه په سر کی حسنی مبارک د خلکو د غو ښتنو د حق څخه ځان بی خبره ګڼی او دخپلی زور واکی، شوکت، او حکومت داری څخه لاس نه اخلی ، یواځي په حکومت کی د ډیروکو چنیو اوکمو تغیراتو په را وستلو سره ځان ته برائت ورکوي، چه دغه تغیر د شطرنج د لوبی په شان د حکومت په اداره کي هیڅ کوم تغیر او بدلون نه دی راوړی، او یواځی اشخاص یو او بل ځای ته په دندو ګما رل شویدي.
د مصر د خلکو اوځوانانو د مظاهری زور دومره پیاوړی وو. چه په میلیوننه خلک یی د قاهری د تحریر ډګرته را وبلل او نړی یی حیرانه کړه. دخلکو دا حرکت د نړی د ټولو هیوادو خلک په فکر او سوچ کی واچول. او د لمړي ځل لپاره د مصر په تاریخ کی دغه غورځنګ دیوه بر یالی خو ځښت په توګه د نړی ګوټ ګوټ ته ورسیدی. د اتلسو ور ځو مظاهرو په اړودور کی د مصریانو ۳۰۰ بی ګناه ځوانانو خپل خوږ ژوند له لاسه ورکړی. او دخپلو پاکو هیلو سره د خپلو ګرانو کورنی، ملګرو او نژدی دوستانو څخه د تل لپاره ددی پانی نړی نه کوچ شول. ولی نوم به یی د تاریخ په ځلاندو پاڼو کی د یادګار په توګه تل پاته شي. او د مصر یانود حق په لاره کی دعزت او پت شهیدان ګڼل کیږی.
نن چه د نړی ټولو معتبرو تلویزیونو او نشراتی رسنیو دا اټکل کاوه چه مبارک به د خپلی استعفا وړاندیز اعلان کړي ولی داسی ونه شول. مبارک بیا خپلی زړی سندری ویلی چه ددی کال د جمهوری ریاست د مودی تر پایه یعنی تر سپتمبر تر میاشتی پوری به په قدرت کی پا ته شی.په تلویزیون کی د مبارک دا اعلان د مظاهره چیانو احسا سات نور هم را وپارول او سبا به د مصر د قاهری د تحریر ډګر یو ځل بیا د ګواښونو او اعترا ضونو مرکز جوړ شي.
که چیری مونږ د تاریخ په اوږدوکی د زور واکانو او دیکتاتورانو تیر ژوند ته پاملرنه وکړو ، همیشه دغه ظالمان او دقدرت تږي لیونیان د خپل ژوند تر اخیره پوری د خپل زوال او نا کامی نوم نه مني. او تر مرګه پوری د قدرت واک نه لاس نه اخلي.یو شعرمی په فکر کی راغلي چه دزور او قدرت ننګه کوی :

زور لـرم، قدرت لـرم ، نامی د زمانو یمه — دیـرش کاله سرداریـم ځکـه مست د میخانـو یمه
زر لـرم ، جایداد لرم ښتن د میلیاردو ډالر — ښنګه به زه ولاړ شم، چه مشهور په دا پیسو یمه
وکړی نندارى، مظاهرى دمصر خلکو نن — وایـم مبارک یـم،که زور راشی په ځغا ستویمه

بلی دغه دیکتاتور نور هم دخپل زور او قدرت په څپو کی بی هوښه غرق دی. او دخپلی ۸۲ کلنی په درشل کی بیا هم غواړي امپرا تور وي. د نړي مطبو عاتو د حسنی مبارک د کورني پانګی په مختلفو هیوادو کي نشر کړی دی. چه په لاندی ډول سره ورته ګورو:
حسنی مبارک، دهغه میر من سوزانه، دهغه دوه زامن جمال او اله د نړی په ګوټ ګوټ کی خپلی منقولی پانګی او غیر منقولی پانګی پکار اچولی دي. ددی کورنی د پانګوالی حد او اندزه نه ده معلومه ،ولی ځنی مصر یان وایی چه د حسنی مبارک د کورنی پانګه په نړی کی میلیاردونو ډالرو ته رسیږی. د الجزیری الاخبار ورځپاڼه لیکی چه ددی کورنی د پا نګی اندازه (۷۰)میلیاردو ډالرو ته رسیږي. دا ورځپاڼه لیکی که چیری دا حقیقت وی نو د مبارک کورني د نړی تر ټولو غټه پانګواله او شتمنه کورنی ده، چه سر ما یه یی په نړی لمړی مقام لری.ځکه د مکسیکو پانګه وال کارلوس سلیم چه (۶۵) میلیا رده ډالره سر ما یه لری په دوهم مقام کی را ځی. دامریکا د پانګوالی دڅیړنی د ځانګی څیړن پوه او متخصص فوربیس د الاخبار د ورځپاڼی نظر تا ییدوی او وایی چه د مبارک کورنی د نړي د سترو سرما یه دار په ډله کی را ځي. د شنونکو په نظر مبارک او دهغه کورني د نړی په غټو ښاروکی لکه: لندن ،پاریس


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په خیر و لولئ

،نیو یارک ،واشنګټن ،لوس انجلس ، فرانکفورت ،مادرید ، زیوریخ، دوبی، ممبیی،قاهره او شرم الشیخ کی ډیر جایدادونه، هوټلونه مغازی او بانکونه لری.
. د بزګر زوی حسنی مبارک په ۱۹۷۵ کال کی لا میلیونر وو، کوم وخت چه د هوایی ځواکونو جنرالی ته ورسیدی. دهغه وخت په فوځی جنرالانو کی مبارک تر ټولو شتمن سړی وو. د شنونکو په نظر د مصر د فقید جمهور رئیس جمال عبد الناصر د مړنی وروسته دهغه ډیره پانګه د مصریوه بل رئیس جمهور انورالسادات ته پا ته شوه ، او د انورالسادات تر مرګ وروسته د هغه ټوله پانګه بیا حسنی مبارک ته په لاس ورغله .چه په ۱۹۸۱ کال کی د انورالسادات تر مرګ وروسته حسنی مبارک د مصر دجمهور رئیس د واک چاری په لاس کی واخیستي او تر ننه پوری د مصر قانونی جمهو رئیس او لمړي درجه شخص دي. ددی کورنی پانګه د نړیٔ په ډیرو قیمتی ښارونو کی پکار لویدلی دي. زیا تره پیسی یی د سویس او انګلستان په بانکو کی ذخیره کړی دی. اود نړیٔ تر ټولو ګران بیه کورونه یی را نیولی دي. د مثال په توګه: په لندن نیو یارک ،پاریس او لوس انجلس په زړه کی یی ډیر ګران بیه کورونه، هو ټلونه د خپل شخصی ملکیت په تصرف کی را وستی دی. لکه:
او داسی نور چه نمونه یی له ورایه ښکاری..Manhattn,Beverly Hills, Rodeo,Drive ا
اوهم دارنګه د مبارک د مشر زوی اله په نا مه د مصر په دننه کی د نړیٔ د مشهورو کمپنیو ملکیت پخپل شخصی تصرف او ملکیت دی ،چه دا یوه بله دغلا اودر غلی بیلګه ده .,Vodafone,MacDonald,s Chili
د مصر د خوار او مظلوم اولس د بیت المال څخه دغه بوډا دیکتاتور دیرش کاله د خلکو په سترګو کی خاوری پاشلی وی.او ددیموکراسی او مسلمانی تر چتر لاندی یی خپله نا ږوه خیره د خلکو نه پټه سا تلی وه.چه نن ور سره مخا مخ شو.او د خلا صون لاره ځنی ورکه ده.
دعربی نړیٔ ډیر نور ظالم واکداران اوس هم همدغه لیونی دیکتاتور ته مشوری ور کوی، چه په قدرت کی پا ته شی. او دمصر د خلکو دا سپیڅلی غورزنګ د نا کامی سره مخا مخ شی.سعودی پاچا ملک عبد الله پرون د اوباما سره په تیلفونی خبرو کی ټینګار وکړی، چه سعودی تیار دي د مبارک سره د هغو مرستو پیټي په غاړه واخلی کوم چه امریکا پخواه د مصر سره کولی، او ددی مرستو اندازه په کال کی څه کم دری میلیارده ډالره ده.د لیبیا مشر قذافی بیا حسنی مبارک ډیر غریب سړی وګڼه او وویل چه مبارک دخپلو جامو او کا لیو د را نیولو پیسی هم نلری او زه یی ورته را نیسم. قذافی زیا ته کړه که چیری په لیبیا کی دغسی ورته پیښه را منځته شی نو دی به یی سخت و ځپی او له منځه به یوسی. څکه دی دخلکو لاریون ته مو قع نه ورکوی.
د اسرائیلو جمهور رئیس شمین پیریس په یوه تلویزیونی وینا کی د مصر جمهور رئیس یو ستر قهرمان او په منځنی ختیځ کی د سولی غټ سمبول وګڼی. او له هغه نه یی سخته دفاع وکړه. د اردن پا چا دوهم ملک عبد الله د مصر جمهور رییس مبارک سره هره ورځ اړیکی نیسي او د نه استعفا ګوا ښونه ور ته کوي. داسی معلومیږی چه دعربی نړیٔ ظالم او خون خواره واکداران د مصر د خلکو غورزنګ سخت په ترس او ویره کی اچولی دي. د مبارک نا کامی به د ډیرو عربی هیوادو د خلکو په عینی او فکری ذهنیتونو کی تغیر را ولی. او دوی به د خپلو خلکو د حق څخه ملا تړ ته راوبولی. داچه بیا به څه کیږی راتلونکی ورځی به د ګوتو په شمارد حسنی مبارک د قدرت زوال او پای وی.

پای


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ